**Pashto** **پښتو**

**د مخينې خونديتوب مقررې سره سم ستاسو په اړه د معلوماتو سره چلند خبرتيا**

د کډوالو محکمه دغه معلومات تاسو ته لیږي، تر څو تاسو ته خبر درکړي چې د کډوالو محکمه ستاسو شخصی معلوماتو سره څرنګه چلند کوي. مونږ ستاسو په اړه شخصی معلومات د لاندې موضوعګاني په اړه تر لاسه کړي دي:

- تاسو پر هغه فيصلي باندې چې د بهرنيانو چارو اداري له خوا شوي وو، شکايت کړي ده،
- ستاسو په اړه د بهرنيانو چارو اداري فيصله د شکايت د غور کولو له پاره په اوتومات توګه کډوالو محکمي ته راجع شوي دي،
- تاسو د کډوالو محکمي څخه غوښتني کړي ده، یو کيس چې وړاندې فيصله شوي وو، د سر نه وکتل شي.

له دې لپاره چې د کډوالو محکمي وکولای شي ستاسو پر کيس باندې کار وکړي، ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې به کار کيږي، د هغه د جملي څخه د معلوماتو تر لاسه کول، د معلوماتو ساتل او نورو چارواکو ته معلومات لیږل دي. ستاسو پر مخيني باندې کار کول په ټوليز او يا تر يو حده د يو کمپيوتری سيستم په مرسته ترسره کيږي.

د مخينې د خونديتوب د مقرراتو[1] پر بنسټ کله چې د کډوالو محکمه ستاسو په اړه ستاسو له خوا يا نورو له خوا معلومات تر لاسه کوي، بايد تاسو ته ځيني معلومات درکړي.

هغه معلومات چې مونږ بايد تاسو ته درکړو، دا دي:

1. مونږ د مخيني مسول يو - تاسو څنګه کولای شي مونږ سره اړيکي ونيسئ؟
2. مونږ د مخيني د خونديتوب يو مشاور لرو – تاسو څنګه کولای شي هغه سره اړيکي ونيسئ؟
3. دا چې مونږ ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار کوو، څه قانونی موخه او بنسټ لري؟
4. آيا تاسو دنده لرئ چې د خپل ځان په اړه مونږ ته معلومات ورکړئ؟
5. مونږ د کوم شخصي معلوماتو په اړه کار کوو؟
6. مونږ ستاسو په اړه د چا له خوا شخصی معلومات تر لاسه کوو، او مونږ ستاسو شخصي معلومات کوم چارواکو سره شريکوو؟
7. ستاسو شخصی معلوماتو د کوم ځای څخه راځي؟
8. مونږ ستاسو شخصي معلومات څو مودې له پاره ساتو؟
9. تاسو کولای شي خپل رضايت بيرته واخلئ
10. تاسو څه حقونه لرئ؟
11. تاسو کولای شي د مخينې د ساتني اداري ته شکايت وکړئ.

لاندې تاسو په تفصيل سره معلومات تر لاسه کوئ، چې مونږ بايد تاسو ته معلومات درکړو.

که کومه پوښتنه لرئ، تاسو کولای شي مونږ سره اړيکي ونيسئ. زمونږ د اړيکي نمبه لاندې په دغه پاڼه ليکل شوي دي، او همدا راز د 1 ټکي لاندې ليکل شوي ده.

**1. مونږ د مخينې مسول يو - تاسو څنګه کولای شي مونږ سره اړيکي ونيسئ؟**

د کډوالو محکمه او د کډوالو محکمې سکرتريت د هغه شخصی معلوماتو د غور کولو مسول دي، چې مونږ ستاسو په اړه هغه باندې کار کوو. لاندې زمونږ د اړيکي نښه.

[1] د اروپا پارلمان او شورا (EU) مقرره 2016/679 د 2016م کال د اپريل 27مه، د کسانو د فيزيکي خونديتوب د شخصي معلوماتو د کار کولو په اړه، او معلوماتو د آزاد تبادلي په اړه او لمبر EF/46/95 دايرکتيف له منځه وړل په اړه.

Adelgade 11-13
1304 København K
Telefon: +45 61983700
E-mail: fln@fln.dk
Hjemmeside: www.fln.dk

Flygtningenævnet
Adelgade 11-13
1304 København K
Tlf nr.: 6198 3700
E-mail: fln@fln.dk
Hjemmeside: www.fln.dk
CVR-nr: 36977191

مونږ تاسو څخه غواړو چي مونږ ته د مراجعي پر مهال د کیس لمبر، د هویت شخصي لمبر PID او نور معلومات بیان کړئ، چي کیدای شي ستاسو د شخصي معلوماتو د موندلو په برخه کې، کوم چې د کډوالو محکمې وربانديې کار کوي، مرسته وکړي.

## 2. مونږ د مخيني د خونديتوب يو مشاور (DPO) لرو – تاسو څنګه کولای شي هغه سره په اړيکي ونيسئ؟

د کډوالو محکمه د مخيني د خونديتوب يو مشاور لري. د هغه د اړيکي نښه لاندې وګورئ:

Databeskyttelsesrådgiver Klaus Wind
Slotsholmsgade 10
1216 København K
Telefon: 6198 4000
E-mail: dpo@uim.dk

## 3. دا چي مونږ ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار کوو، څه قانوني موخه او بنسټ لري؟

ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار کول موخه دادي، چې د کډوالو محکمه وکولای شي ستاسو کيس فيصله کړي.

مونږ ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې د بهرنيانو قانون[2] پر قانوني بنسټ، د مخيني د خونديتوب د قانون[3] پر بنسټ او د مخيني د ساتني مقررې پر بنسټ کار کوو، چې د دغو لاندې ټکي په برخه کې ترسره کيږي:

د مخيني د خونديتوب قانون

- اتمه ماده، 2م بند، 1 و 3م فقره (د جرمي موضوعګاني په اړه اټکلي معلومات

د مخيني ساتني مقرره

- شپږم فصل (معمولي شخصي معلومات
    - 1 بند، a فقره (رضايت)
    - 1 بند، c فقره (قانوني ژمن)
    - 1 بند، e فقره (د چاروکو حکمونه)

---

[2] 1117 لمبر مقرره د 2017/10/02 د بهرنيانو قانون سره د وروستنۍ بدلونونه
[3] 502م قانون د 2018/05/23 د کسانو د فيزيکي خونديتوب د شخصي معلوماتو د کار کولو په اړه، او معلوماتو د آزاد تبادلي په اړه او لمبر EF/46/95 دايرکتيف له منځه وړل په اړه.

- نهم فصل (حساس شخصي معلومات)
  - 2م بند، a فقره (رضایت)
  - 2م بند، e فقره (د راجستر شوي معلوماتو ښکاره کول)
  - 2م بند، f فقره (قانوني ژمن)
  - 2م بند، g فقره (مهم ټولنیز ګټې)

### 4. آیا تاسو دنده لرئ چې د خپل ځان په اړه مونږ ته معلومات ورکړي؟

تاسو دنده لرئ چې هغه معلومات مونږ ته ورکړئ چې مهم ګڼل کیږي، تر څو د کډوالو محکمه وکولای شي ستاسو کیس فیصله کړي. که چیري تاسو مونږ ته دا معلومات رانکړي، ښایي ستاسو د کیس په زیان تمام شي. د زیاتو معلوماتو د ترلاسو کولو له پاره چې ستاسو د معلومات ورکولو د دندې په اړه چې څرګند شوي دي، د بهرنیانو قانون 40م مادې ته مراجعه وکړئ، چې د دغه سند په پای کې لیکل شوي دي

### 5. مونږ د کوم شخصي معلوماتو په اړه کار کوو؟

مونږ کولای شو، که چیري لازم وګڼل شي، ستاسو پر لاندې ډلې شخصي معلوماتو باندې کار وکړو:

- معمولي شخصي معلومات (د مثال په توګه، نوم، آدرس او ستاسو د کورنۍ اړیکې)
- د احتمالي جرمي موضوعګانې په اړه معلومات
- حساس شخصی معلومات (د مثال په توګه روغتیایی معلومات او ستاسو د سیاسی او مذهبی اړیکې په اړه معلومات)

### 6. مونږ ستاسو په اړه شخصی معلومات د چا نه تر لاسه کوو، او مونږ ستاسو شخصي معلومات کوم چاروا‌کو ته شریکوو؟

کله چې د کډوالو محکمه ستاسو پر کیس باندې کار کوي، محکمه ستاسو د کیس سندونه د نورو دولتي چاروا‌کو له خوا، په خاصه توګه د بهرنیانو چارو ادارې او د پولیسو څخه تر لاسه کوي.

د کډوالو محکمه په ځینو حالتو کې ستاسو شخصي معلومات نورو چاروا‌کو ته درلیږي، په خاصه توګه:

- بهرنیانو چارو او په ټولنه کې د جذبیدو وزارت ته
- بهرنیانو چارو ادارې ته
- د کډوالو شورا ته
- کډوالو سره د مرستي ټولني ته
- پولیسو او استخباراتی ادارو ته
- بهرنیو چارو وزارت ته
- عدلیې وزارت ته
- پارلمان ته
- په پارلمان کې دولتي قاضی ته

## 7. ستاسو شخصی معلوماتو د کوم ځای څخه راځي؟

ستاسو په اړه هغه معلومات چې مونږ هغه باندې کار کوو، په خاصه توګه د لاندې ځایو څخه راځي:

- د بهرنیانو چارو او په ټولنه کې د جذبیدو په وزارت کې مخکنی ثبت شوي معلومات
- د نورو دولتي چارواکو له خوا، په خاصه توګه د بهرنیانو چارو اداری او د پولیسو له خوا
- هغه سرچینې چې ټول ورته لاسرسی لري، د مثال په توګه انترنیټي سایتونه او سوشیال مدیا
- د وګړو د ثبت مرکزی اداره (CPR)

## 8. مونږ ستاسو شخصي معلومات څو مودې له پاره ساتو؟

د کډوالو محکمه په اوسنی وخت نشي ویلای، چې ستاسو شخصي معلومات څو مودې لپاره ساتل کیږي. خو بیا هم د نورو موردونو سربېره، د ارزونې پر مهال، د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سره دې ته اهمیت ورکو چې ستاسو شخصی معلومات څو مودې لپاره وساتل شي:

- د دې امکان چې ستاسو کیس د سر نه وکتل شي
- د دې امکان چې ستاسو کیس نړیوالو مراجع ته راجع شي
- اسنادو ته د لاسرسی د پریکړې امکان
- یا دا چې معلومات د آرشیف کولو د مقرراتو سره سم وساتل شي.

## 9. تاسو کولای شي خپل رضایت بېرته واخلئ

که تاسو کډوالو محکمې ته رضایت ورکړي ده، چې ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار وکړي، تاسو هر کله کولای شي چې خپل رضایت بېرته واخلئ. که تاسو غواړئ چې خپل رضایت بېرته واخلئ، تاسو کولای شي مونږ سره د اړیکې معلومات له لارې چې د 1 ټکي لاندې لیکل شوي دي، اړیکې ونیسئ.

که تاسو پریکړه دې وکړه چې خپل رضایت بېرته واخلي، مونږ لا کولای شو چې ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار وکړو، چې د رضایت د بېرته اخستنې مهال نه مخکې مونږ یې تر لاسه کړي وو.

## 10. تاسو څه حقونه لرئ؟

تاسو د هغو معلوماتو په اړه چې مونږ ورباندې کار کوو، ځینې حقونه لرئ. که غواړئ چې د خپل حقونو څخه ګټه واخلئ، باید مونږ سره اړیکې ونیسئ. تاسو لاندې حقونو لرئ:

- تاسو حق لرئ چې هغو معلوماتو ته لاسرسی ولرئ، چې مونږ ستاسو په اړه هغې باندې کار کوو.

- تاسو حق لرئ چې غلط معلومات اصلاح کړئ.

- تاسو حق لرئ چې په خاصو حالاتو د خپل په اړه ځینې معلومات محدود یا له منځه وړئ، که دا معلومات ستاسو د کیس د غور لپاره نور په درد نه خوري.

- تاسو حق لرئ چې زمونږ کار سره چې ستاسو د شخصي معلوماتو په اړه تر سره کیږي مخالفت وکړئ.

- تاسو حق لرئ چې خپل شخصي معلومات د 8م ټکي پر بنسټ د مخیني د ساتلو د یو مسول څخه یو بل د مخیني مسول ته انتقال ورکړئ.

**11. تاسو کولای شي د معلوماتو د ساتني اداري ته شکایت وکړئ.**

که تاسو له خپل شخصي معلوماتو سره زموږ د چلند څخه ناخوښه یاست، تاسو کولای شي چې د مخیني د ساتني اداري ته شکایت وکړئ.

تاسو کولای شي د مخیني د ساتني اداري آدرس په دغه سایت کې پیدا کړئ: www.datatilsynet.dk.

**د بهرنیانو قانون 40م ماده:**

**40م ماده.** یو بهرني وګړي باید هغه معلومات، چې ارزوني لپاره لازم ګڼل کیږي، وړاندې کړي چې آیا د دغه قانون پر بنسټ کیدای شي هغه ته د اقامې اجازې درکړل شي، بېرته واخستل شي یا لغو شي، یا دا چې یو بهرني وګړي په هیواد کې په قانوني ډول اقامه لري او کار کوي. بهرني وګړي باید د احضاریې سره سم، باید پخپله حاضر شي، او د غوښتنې سره سم خپل پاسپورت او نور سفري سندونه د قانون د حکم پر بنسټ دغوښتنلیکونو د غور لپاره تسلیم کړي. بهرني وګړي ته باید څرګند شي، چې هغه معلومات چې د اول او دوهم ټکي لاندې راغلي دي، امکان لري چې د هغو مقرراتو لاندې راشي چې د 7a فصل لاندې ذکر شوي دي، چې هغه معلومات استخباراتي ادارو یا څارنوالی ته لیږل کیږي. ټول هغه کسان چې اړیکل کیږي چې دوی کیدای شي د کیس د غور لپاره ځینې معلومات وړاندې کړي، امکان لري هغه معلومات وړاندې کړي چې د اول ټکي لاندې ذکر شوي دي.

2م بند. ...
3م بند. ...

4م بند. ټول لګښتونه چې امکان لري د یو بهرني وګړي له خوا د دغه قانون پر بنسټ د معلومات ورکولو لپاره لګښت شوي وي، چې موخه یې د یو کیس د غور لپاره لازم ګڼل کیدل، یوازې په هغه حالت د بهرنیانو د چارواکو له خوا هغه ته بېرته ورکول کیږي، چې د معلومات ورکولو نه مخکې په لیکنې ډول د بهرنیانو چارواکو له خوا ژمن شوي وي.

5م بند. ...
6م بند. ...

7م بند. یو کس چې د هغه کیسونو په اړه چې د دغه قانون لاندې راځي، د معلومات ورکولو په اړه شهادت ورکوي، امکان لري چې د بهرنیانو چارواک هغه نه وغواړي چې په ایمان او قانون قسم وخوري.

8م بند. هغه کس چې په ناسم توګه شهادت ورکوي یا غواړي په یو بل ډول عمل وکړي، یا دې پسې دي چې یو بهرني وګړي د اقامې اجازه، یا د نوم ثبت شوي سند، یا د اقامې کارت تر لاسه کړي، د 6مې مادې پر بنسټ، د درغلیو له امله، هغه کس موظف دي چې د دولت ټو ل لګښتونه چې پر بهرني وګړي هیواد ته د ننوتلو، هستوګنې او د خارجیدو، همدا راز د بهرني وګړي پر کیس باندې لګښت شوي، بېرته دولت ته ورکړي.

9م بند. د کیسونو په اړه معلومات ورکول چې د دغه قانون لاندې راځي، امکان لري د عدالت د تأمینولو د قانون پر بنسټ د 1018مې مادې له مخې په محکمه کې ګرویږنه شي.

10م بند. ...
11م بند. ...
12م بند. ...